# د عیسوګۍ په جلسه کښې
# د باچا خان تقریر

اداره

اکثرو ورونړو ته به معلومه وي چې په تېرو ورځو کښې د تنګي میرعالم خان او د هغهٔ نوکرانو د خپلې بانډې "عیسوګۍ" خدائي خدمتګاران صرف په دې ګناه وهلي وو چې هغوي خدائي خدمتګاري کوله او میرعالم خان دوي منع کول چې خدائي خدمتګاري پرېږدئ، د دې واقعې نه د صوبې په ټولو قومي خادمانو کښې یوه عامه بې قراري پېدا شوې ده او د واقعې په دوېمه ورځ په عیسوګۍ کښې یوه عامه جلسه وشوه په هغې کښې په زرګونو خدائي خدمتګار شریک شول او فخر افغان صاحب دا تقریر وفرمائیلو. (جون ۱۹۳۸).

خویندو او ورونړو تاسو ته معلومه ده چې نن دلته مونږ ولې راجمع شوي یو، دا خبره پټه نهٔ ده او ټولو ته معلومه ده چې د عیسوګۍ غریبانو خدائي خدمتګارانو سره ظلم زور او زیاتے شوے دے. مونږ دلته د هغوي د همدردۍ دپاره جمع شوي یو. دا زمونږ راجمع کېدل څهٔ نوې خبره نهٔ ده او پرون چې په عیسوګۍ کښې څهٔ شوي دي دا د تعجب خبره نهٔ ده. د دنیا تاریخ د غم او تکلیف نه ډک دے. قومونه همېشه د آزادۍ حاصلولو دپاره تکلیفونه زغمي او مصیبتونه تېروي. زهٔ منم چې صبر ډېر ګران دے، ظلم برداشت کول آسان کار نهٔ دے، ولې قومونه همېشه د خپل ملک د فائدې دپاره د اسلام د ترقۍ دپاره صبر اختیاروي. نو تاسو له پکار دي چې تاسو هم په ظلم صبر وکړئ او په خپل استقلال کښې فرق رانهٔ ولئ. تاسو قرآن شریف وګورئ، خدائے پاک فرمائي چې زهٔ د هغه خلقو ملګرے یم چې څوک صبر اختیاروي. زهٔ د عیسوګۍ په واقعه خفه نهٔ یم او ځکه خفه نهٔ یم چې په دنیا کښې کومو خلقو او حکومتونو ظلمونه کړي دي، هغه خلق او هغه حکومتونه ډېر زر تباه شوي دي، په یو حکومت کښې چې ظلم څومره زیاتېږي، هغه هومره هغه حکومت زر تباه کېږي او ظلم چې څومره کمېږي هغه هومره د هغه حکومت ژوند اوږدېږي، تاسو ته معلوم نهٔ دي چې په دې ملک کښې ډېر حکومتونه قائم شوي دي خو چې هغوي ظلم اختیار کړو نو نن ئې نوم او نخښه هم نشته. څهٔ وخت چې هغوي ظلمونه شروع کړل نو خدائے پاک هغوي تباه او برباد کړل. زهٔ خو وایم چې دا قسم مصیبتونه په مونږ د خدائے له طرفه یو امتحان او ازمېښت دے او خدائے پاک همېشه په خپل مخلوق داسې د ازمېښت وخت راولي. په دې وجه زهٔ غواړم چې پرېږده چې پېرنګیان، خانان او د هغوي نوکران ظلمونه وکړي، د ظلم مزے لنډ وي، زما خیال دے چې نن زهٔ خدائي

خدمتگارو ورونو سره، خانانو سره او انگریزانو سره یو څو رښتیا رښتیا خبرې وکړم. تر اوسه پورې په بوسو کښې اوبهٔ تللې خو نورې په بوسو کښې اوبهٔ پرېښول پکار نهٔ دي، صفا صفا وئیل پکار دي، زهٔ غواړم چې خدائي خدمتگاران هم پوه شي. پېرنگیان او خانان هم خبر شي. اول خدائي خدمتگارانو ورونو ته وایم چې ستاسو به یاد وي چې تاسو د خپل خدائے سره وعده کړې وه چې مونږ به پره جنبه، تربگني، دشمني د ناحقې گواهۍ مقدمې او زور ظلم زیاتے نهٔ کوو او کهٔ په مونږ څوک ظلم کوي مونږ به صبر کوو. زهٔ نن هغه وعده تاسو ته یادوم، تاسو له پکار دي چې په خپله وعده پابند اوسئ، زما یقین دے چې د پښتون نه زیات بهادر قوم به ډېر کم وي ولې سره د دې پېرنگي له تاسو نه دا ملک اخستے دے، دا هم ستاسو د پرو جنبو او خودغرضۍ په وجه ئې اخستے دے.



خودغرض هغه سړي ته وئیلے شي چې د چا دوه پیسې فائده وي نو کهٔ بل طرف ته د هغهٔ ټول قام ملک او اسلام ته نقصان رسي هغه وائي چې دا ټول دې په سیند لاهو شي خو زما دوه پیسې فائده دې لاړه نهٔ شي. تاسو خپل اصول وپېژنئ مونږ د ظلم زور زیاتي زغملو دپاره مېدان ته راوتي یو نو کهٔ څوک زور ظلم زیاتي زغملو ته تیار وي نو هغه دې خدائي خدمتگارۍ کښې پاتې شي او کهٔ څوک دې ته تیار نهٔ وي نو هغه دې قرار کښېني او تماشه دې کوي چې خدائے څهٔ کوي.

دویمه وعده زمونږ دا وه چې مونږ به خدائي خدمتگار یو، مونږ له خپل گرېوان کښې کتل پکار دي چې مونږ د خدائے د مخلوق کوم خدمت وکړو؟ بل خدائي خدمتگار هغه سړے دے چې هغه چې څهٔ کوي د خدائے دپاره ئې کوي. لېکن زهٔ وینم چې په مونږ کښې پرې دي، جنبې دي، څوک وائي زهٔ کرنېل نهٔ شوم، څوک ژاړي زهٔ صدر صاحب نهٔ شوم، څوک فریاد کوي زهٔ ناظم صاحب جوړ نهٔ شوم دا خو خدائي خدمتگاري نهٔ شوه، دا خو د عهدو خدمتگاري ده، د دښمنانو هم دا کوشش دے چې ستاسو کور وران کړي په تاسو کښې پرې جنبې او ډلې پېدا کړي.

د دې غرض دپاره ئې په مونږ کښې داسې خلق رادننه کړي دي چې هر وخت په عهده جگړې کوي، ولې چې هغوي ته دا معلومه شوې ده چې خدائي خدمتگارو ته د بهر نه مونږ هېڅ نقصان رسولے نهٔ شو، بلکې چې هغوي په دې کوششونو کښې فېل شو نو دا طریقه ئې خوښه کړه، دې دپاره اې ورونو! هوښیار شئ، راویښ شئ او د خپلې ذمه وارۍ نه ځان خبر کړئ، کهٔ چرې تاسو خپله فائده نقصان او دوست دښمن وپېژندل خو ستاسو کور به آباد شي او کهٔ چرې تاسو غفلت

وکړو نو خپل نقصان به وکړئ او خپل کور به وران کړئ، دا ټول کوششونه د چا دي ورونړو!؟ دا ټول د پېرنګي کوششونه دي، تاسو نۀ ګورئ چې ستاسو لږ غونډې کور آباد شو نو لږ غونډې د پېرنګي کور وران شو نو په دې پوهه شئ چې څومره ستاسو کور جوړېږي نو هغه هومره به د پېرنګي کور ورانېږي او کۀ چرې خدائے دې نۀ کړي ستاسو کور بيا وران شو نو د پېرنګي کور به ودان شي. پېرنګي خو دا هېچرې نۀ غوښتل چې دا د جنت په شان ملک د هغۀ د قبضې نه لاړ شي. هغه خو شپه ورځ په دې کوشش کښې دے چې تاسو په خپل کور کښې بې اتفاقه کړي، خپل سلطنت مضبوط کړي او د دې غرض دپاره به تر آخره ستاسو مقابله کوي او څنګه چې د هغۀ وس کېږي ستاسو د کور ورانولو کوشش به کوي. مګر کۀ ستاسو دا ورورولي قائمه وي نو پېرنګے هېڅ نۀ شي کولے.

## پاتې شو خانان!

نو چې هر کله پېرنګے ستاسو مقابلې ته لاچار شي نو دوي به څنګه ستاسو مقابله وکړي. ولې چې دوي خو د هغۀ ملاتړ دي نو زۀ به خپلو خانانو ورونړو ته صرف دا قدر ووايم چې تاسو لږ پېرنګيانو ته وګورئ او د هغوي نه عبرت واخلئ، پېرنګے خو هېڅ کله زمونږ ملګرتيا نۀ کوي او تاسو همېشه د هغوي ملګري کوئ.

تاسو خو زمونږ قام يئ، زمونږ ورونړه يئ، ملک زمونږ او ستاسو يو دے، غم مو يو دے، ښادي مو يوه ده، آخر ستاسو د پېرنګي سره څۀ خپلوي ده، تاسو د پېرنګي سره دا صفائي خو وکړئ چې کۀ چرې دے د دې ملک نه تلو نو تاسو به لندن ته د ځان سره بوځي، تاسو له به په خپل ملک کښې ځائے درکړي.

زۀ خو تاسو ته دا په صفايۍ سره وايم چې پېرنګے تاسو ځان سره ملګرے کوي نۀ او د هغۀ په تشو خبرو زمونږ سره دشمني کوئ، دا چې مونږ خو ستاسو ګټندوئي يو. د پېرنګي د پنجې نه ځان هم خلاصوو، تاسو هم خلاصول غواړو. تاريخ وګورئ چې کومو خلقو د خپل قوم مخالفت کړے دے او د غېر قوم مرسته ئې کړې ده چې د هغوي څۀ حشر شوے دے.

ورونړو! تاسو چې په کومه لار روان يئ او کوم قدم چې تاسو اوچت کړے دے دا ډېر خطرناک قدم دے. په دې خبره لږ فکر وکړئ چې آخر تاسو به نقصان د چا وکړئ. تاسو کۀ چرې غريبانو سره زور ظلم شروع کړئ او هغوي د خپلو کوټو او زمکو نه وشړئ نو مونږ به د دې غريبانو ستاسو د ظلم نه د بچ کولو کوشش نۀ کوو او هغه وخت به مونږ مجبور نۀ يو چې د داسې يو قانون پاس کېدو کوشش وکړو چې بيا دپاره دا مظلومان د ظالمانو د ظلم نه بچ شي او لږ دې ته خو هم فکر وکړئ چې په دې موجوده وخت کښې مونږ داسې قانون پاس کولے شوکۀ نۀ، نو کۀ چرې مونږ په داسې قانون پاس کولو کښې مجبور شو نو مونږ ته په دې کښې څۀ قصور دے خو تاسو به مجبور کړي يو مونږ خو تاسو ټول خپل ورونړه ګڼو، خپل قام مو ګڼو، ولې افسوس چې تاسو يو داسې کار شروع کړے دے چې زمونږ نه ځان بيلوئ.

پہ آخر کښې به زۀ انګرېزانو ته هم دا وو ايم چې هغه زمانه اوس تېره ده چې تاسو به خلق په خبرو وغولول، مونږ اوس په ټولو خبرو پوه شوي يو، تاسو خو په خُلۀ وايئ چې نن حکومت د خدائي خدمتګارو دے او مونږ د هغوي ماتحت يو او د هغوي هر قسم مرستې ته تيار يو ولې چې مونږ ستاسو عمل ته ګورو ستاسو د پټو پټو مشورو نه خبرېږو نو حقيقت داسې نۀ دے په ملک کښې د خدائي خدمتګارو برخلاف چې دا څۀ ډلې جوړېږي، دا څۀ شر و فساد زياتېږي په دې ټولو کښې په يوه واسطه سره ستاسو لاس کار کوي. ولې مونږ ته دا ټول خانان او مخالف مُلّيان معلوم نۀ دي، دا هغه خلق نۀ دي چې پرون د حکومت برخلاف دوي يو حرف هم وئيلے نۀ شو او بې اودسه ئې د حکومت د نوم اخستلو هم جرات نۀ شو کولے او نن ئې د خدائي خدمتګارو او د حکومت برخلاف ملا تړلې ده، بلکې په ظاهره د قومي حکومت برخلاف ډېرې ناشائسته خبرې کولې شي.

دا خو په خوب و خيال کښې هم راتلې نۀ شي چې د خدائي خدمتګارو حکومت دې وي او خدائي خدمتګار دې بې ګناه وهلے ټکولے شي، دا کارونه بغير د پېرنګيانو د مشورې نه هرګز نۀ شي کېدے.

زۀ انګرېزانو ته دا خبره هم په صفائۍ سره وايم چې هېڅ پروا نشته څومره ظلم بدامني او فساد چې زياتولے شي زيات دې کړي، آخر د دې نقصان به چاته رسي، بد امني او ګړبړي همېشه د يو منظم حکومت د تباهۍ او نقصان سبب ګرځي. په داسې موقعو کښې زمونږ د خدائي خدمتګارو به دا فرض وي چې څۀ ظلم دوي سره کېږي حکومت دې پرې خبروي او دنيا ته دې د ظالم ظلم ښکاره کوي، مونږ کۀ د دې واقعې رپورټ کړے دے نو هم په دې غرض چې د ظالم د ظلم نه خلق خبر شي. په دې مطلب نۀ چې مونږ چا ته نقصان رسول غواړو، يا څوک جېلخانو ته لېږل غواړو.

مونږ په خپله جېلخانو ته تيار يو ولې د بل چا جېلخانو ته لېږل نۀ غواړو، ځينې خلق وائي چې کۀ چرې داسې ظلمونه کېږي او ظالمانو ته سزا نۀ ملاوېږي نو مونږ به په خدائي خدمتګارۍ پرېښودلو مجبور شو نو زۀ په دې خبره به تاسو پوه کړم چې مونږ له لا هغه حکومت په لاس نۀ دے راغلے چې کوم ستاسو خيال دے. په ملک کښې کچرۍ او قانون لا خو هغسې د پېرنګيانو دے، ماتحت خلق چې د وزيرانو سره مرسته نۀ کوي نو يو وزير څۀ کولے شي. ځکه چې اصل اختيارات د محکمې د لويو لويو افسرانو سره دي، د هرې محکمې مشر افسر چې د وزيرانو سره امداد ونۀ کړي نو يواځې وزير څۀ کولے شي. مونږ اورو چې تقريباً د هرې محکمې لوئے افسر په زړۀ سره د وزير امداد کول نۀ غواړي بلکې هغه د خپلې محکمې د افسرانو په دماغ کښې د دې قسم خبرې کښېنوي چې ستاسو د تورو سپينو مالک زۀ يم او ستاسو د ملازمت د ترقۍ او تنزل اختيار زما په لاس کښې دے او دلته لويه خبره دا ده چې وزير دغه لوئے افسر نۀ موقوفولے شي او نۀ ئې تنخوا کمولے شي، زمونږ ځنې خدائي خدمتګار وروڼه دا هم وائي چې کۀ په داسې ظلمونو خانانو ته سزا ورنۀ کړے شي نو د خدائي خدمتګارۍ تحريک ته به نقصان ورسي نو په دې خبره به زۀ ستاسو په خدمت کښې عرض وکړم چې زما رائې د دې خبرې خلاف ده زۀ وايم چې دا ځيزونه په ځائے د نقصان فائده رسوي. تاسو نۀ

ګورئ چې کۀ پرون د عیسوګي پـه دې غریبانو ظلم نۀ وے شوے نو نن به مونږ پـه زرګونو ښـځې نر پـه دې دشت بیابان کښې څنګه راجمع شوي وو، د دنیا د تاریخ نه ثابته ده چې یو تحریک چرې پـه زور ظلم دباؤ شـوے نـۀ دے دا پـه مـونږ د خدائے لـه طرفـه یـو امتحـان دے او خـدائے پـاک ګـوري چـې د هغـۀ پـه لار کښې کوم خلق دي چې زور ظلم او زیاتے تېرولے شي.

بس زۀ تقریر ختموم خو دومره قدرې عرض به نـور وکړم چې ز مـا دا خبرې تاسو پـه خپلـه هـم مـۀ هېروئ او زمونږ هغه غریبان ورونه چې دلتـه راغلي نۀ دي هغوي ته هم تاسو ز ما دا خبرې ورسوئ.

زمـونږ غریـب پښـتون ډېـر ښـۀ قـوم دے، ډېـر بهـادر قـوم دے ولـې افسـوس چـې خبـر نـۀ دے، غمخور ئې نشته چې هغه ئې خبر کړي او د خدائے دپاره ئې پـه سـمه لاره روان کړي او د خدائے دپاره د دۀ خۀ خدمت وکړي.

(پښتون ۲۱ جون ۱۹۳۸)